هفته نامه

# تحصیلات عالی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵

وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af

آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af

شماره یکصد و پنجاه ششم- سال هشتم- حمل -۱۳۹۹ ه. ش


## لوړو زده کړو وزارت په ۱۳۹۸ کال کې د خپلو ترسره کړو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور ملت ته د دولت د حساب ورکولو په برنامه کې تشریح کړ




## لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر د افغانستان د ملي وړتیاوو د تثبیت کمېسون افتتاح کړ



# لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر د افغانستان د ملي وړتیاوو د تثبیت کمېسون افتتاح کړ

دا کمېسون د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۲ گڼې فیصلې پر بنسټ د افغانستان د ملي وړتیاوو (NQF) د سند په بنا او د لوړو زده کړو وزارت د اصلاحي او پراختیایي پلانونو په اساس له پولي بهر د تحصیلي اسنادو د ارزیابۍ او معادلت رییس پوهندوی سید فرهاد شهید زاده او د مرکزي پوهنتونونو د استادانو په غړیتوب رامنځته شوی دی.

لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي له پولي بهر د تحصیلي اسنادو د ارزیابۍ او معادلت رییس او په کمېسون کې شامل استادانو څخه په مننې وویل:

« له ۲۰۰۸ کال راپدېخوا په افغانستان کې د ملي وړتیاوو د تثبیت کمېسون د رامنځته کېدو په اړه بحثونه پیل شول؛ خو د مختلفو عواملو پر بنسټ کوم پرمختګ ترسره نشو، چې له ښه بخته د لوړو زده کړو وزارت د هڅو په پایله کې یاد کمېسون نن خپل کار پیل او پرانېستل شو.»

پوهنمل بالاکرزي زیاته کړه، چې د هېواد د کابینې پریکړې پر بنسټ لوړو زده کړو وزارت او نورو اړوندو ادارو ته دنده وسپارل شوه، چې د آسیا پسفیک سیمه ییز کنوانسیون او د یونسکو سازمان معیارونو د ښه تطبیق په موخه، لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي اسنادو د معرفي، د لوړو زده کړو د معلوماتي ملي سیستم برابرولو او په انګلیسي ژبه د تقنیني اسنادو د ژباړنې په برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي، چې پدې اړوند نن لوړو زده کړو وزارت خپل لومړني ګامونه واخیستل.



د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د یاد کمېسون غړو ته لارښوونه وکړه چې د ملي وړتیاوو د چارچوب مسوده د یونسکو د معیارونو او د سیمې او نړۍ هېوادونو د ورته کمېسونونو د مطالعې پر بنسټ جوړه، چې وروسته بیا د بشري پانګې، فرهنګي او علمي عالي شورا او د کابینې غونډې ته وړاندې شي.

پوهنمل بالاکرزي وویل چې په ۱۳۹۸ کال کې د لوړو زده کړو وزارت په تشکیلاتو کې معقول بدلونونه رامنځته شول، چې مثبتې پایلې هم له ځانه سره لري او هیله ده، چې د له پولي بهر د تحصیلي اسنادو د ارزیابۍ او معادلت ریاست او د یاد شوي کمېسون په رامنځته کېدو سره کرار کرار د هېواد په تحصیلي ډګر کې په شته ستونزو برلاسي شو.

له پولي بهر د تحصیلي اسنادو د ارزیابۍ او معادلت رییس پوهندوی سید فرهاد شهید زاده په خپلو خبرو کې د افغانستان لپاره د ښه مودل وړاندې کولو په موخه د عمل پلان، د افغانستان د (NQF) د جوړښت په څرنګوالي، د سیمه ییزو او نړیوالو معیارونو د مطالعې په اړه معلومات وړاندې کړل.

هغه وویل چې د ملي وړتیاوو د تثبیت سند د یو ستراتېژیک سند په بڼه، چې کولای شي د افغانستان د لوړو زده کړو سیستم نړۍ ته وروپېژني، د تحصیلي اسنادو معادلت سازي زمینه برابره کړي او موږ ته د بشري ځواک د روزنې د څرنګوالي په برخه کې، چې په کوم ظرفیت او مهارتونو د کار بازار ته وروپېژندل شي، لارښوونه وکړي.

پدې غونډه کې د یاد کمېسون غړو استادانو هم د افغانستان لپاره د سیمې او نړۍ د معیارونو په اړوند خپل نظرونه د غونډې له ګډونکوونکو سره شریک کړل، چې د ګډونوالو لخوا وربانډې بحث وشو.

تاکل شوي ده، چې دغه کمېسون به د خپلو پروګرامونو پاتې مرحلې او پلانونه له نورو وزارتونو او اړوندو ادارو سره شریک او یو جامع سند جوړ کړي.

# لوړو زده کړو وزارت په ۱۳۹۸ کال کې د خپلو ترسره کړو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور ملت ته د دولت د حساب ورکولو په برنامه کې تشریح کړ

لوړو زده کړو وزارت په ۱۳۹۸ کال کې د خپلو ترسره کړو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور ملت ته د دولت د حساب ورکولو په برنامه کې د رسنیو په وړاندې تشریح کړ.

په دغه کنفرانس کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي په داسې حال کې چې ددغه وزارت معینانو او رئیسانو هم حضور درلود، د لوړو زده کړو وزارت لاسته راوړنې، مسؤولیتونه او کاري فعالیتونه په درېو محورونو د متخصصو کادرونو روزنه، د علم تولید او د علمي او اکاډمیکو خدمتونو وړاندې کولو په بڼه تشریح کړل.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر وویل: لوړو زده کړو وزارت له (۲۰۰۲) کال څخه تر دې دمه د کمیت په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودې چې کولای شو له (۶) دولتي تحصیلي بنسټونو څخه ۳۸ دولتي او (۱۳۱) خصوصي بنسټونو ته د دوی د شمېر زیاتوالي یادونه وکړو.

نوموړي زیاته کړه چې اوسمهال لوړو زده کړو وزارت په ځینو پروګرامونو کار کوي ترڅو د هېواد د تحصیلي بنسټونو کیفیت ته وده ورکړي.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د تحصیلي نصابونو له نوي کولو یادونه وکړه او ویې ویل: د ټولو (۱۶۵) تحصیلي څانګو له نصابونو څخه د هغوی په (۵۰) سلنه کار پیل شوی او د (٤۲) څانګو نصاب په بشپړ ډول نوی شوی چې د (۱۳۹۹) کال تر پایه به ټول نصابونه په منظم ډول نوي او ګټې اخیستنې ته وړاندې شي.

نوموړي د لوړو زده کړو وزارت تقنیني اسنادو او تشکیلاتو د بیاکتنې په اړه وویل چې د لوړو زده کړو په قانون کې د لازمو تعدیلاتو په شمول، د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو، د استادانو معاشونو، فوق لیسانس او شپنو زده کړو مقررې، د خصوصي بنسټونو د کانکور اخیستنې طرزالعمل، د (۵۲) طرزالعملونو او لوایحو انکشاف، د علمي کادر غړو د تقرر پروسې پر معیاري کولو، د نویو ریاستونو پر رامنځته کولو او د اوبو او استوګنیز چاپیریال مرکز په جوړولو کارونه ترسره شوي دي.




په نړیوالو ژورنالونو د کار پیل، د علمي کادر غړو دوه سوه مقالو نشریدل، د استادانو لپاره د (۱۸۰) څېړنیزو پروژو وړاندې کول، د (۹۷) زره قطعه ډیپلومونو چاپول، د ټوکیو په ۲۰۱۱ کنوانسیون کې د افغانستان غړیتوب ترلاسه کول، د هېواد په پوهنتونو کې د الیکترونیکي زده کړو رواجول، د استادانو د ظرفیت لوړولو مرکزونو جوړول، د ماسټرۍ شپږو ګډو پروګرامونو د جوړولو په برخه کې د هند له هیواد سره د هوکړه لیک امضاء کول، د ماسټرۍ او دوکتورا په برخه کې د هیواد دننه او بهر د علمي کادر غړو لپاره د تحصیل د ادامې زمینه برابرول او د ازبکي ژبې د زده کړې په برخه کې ازبکستان هیواد ته د (۱۰۰) تنو استادانو لیږل، د (۸۵) سلنه پراختیایي بودیجې او (۹۹) سلنه عادي بودیجې لګول او پوهنتونو ته د بودیجې ویشل د شاخصونو په اساس، په ورځنیو برنامو کې په ۳۸ بنسټونو کې د (۲٦) پوهنځیو جوړول چې د (٥٤) ډیپارټمنټونو درلودونکي دي او په شپنیو برنامو کې د ښوونځیو د ښوونکو د ارتقاء لپاره د (۳٦) نویو څانګو جوړول، له نړیوالو پوهنتونو سره د (۱۰٦) تفاهمنامو مراحل طی کول، د پوهنتونو (۹۵) سلنه له انټرنیټ سره وصلول او د هیواد له تحصیلي بنسټونو څخه په دوامداره توګه نظارت تر سره کول ددې وزارت له نورو فعالیتونو څخه دي چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر له لوري واورول شول.

وروسته بیا د لوړو زده کړو مالي او اداري مرستیال دوکتور احمد سیر مهجور له اداري فساد سره د جدي مبارزې، د بودیجې د معقول لګښت، د ښځینه قشر د ظرفیت د ارتقاء، هغوی ته د کاري زمینې برابرولو او د زیر بناوو د پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل.

د یادولو وړ ده چې د جمهوري ریاست د حکم په اساس، ملت ته د دولت ځواب ورکوني پروګرام د (۱۳۹۸) مالي کال له فعالیتونو څخه د یوې میاشتې لپاره د (۱۳۹۸) کال د کب میاشتې له اولې نیټې د (۱۳۹۹) کال وري میاشتې تر لومړۍ نیټې پورې تر سره کیږي چې ټولې دولتي اداری له مهالویش سره سم د (۱۳۹۸) مالي کال د فعالیتونو په اړه، د رسنیو له لارې ملت ته معلومات وړاندې کوي او د رسنیو پوښتنو ته ځواب وړاندې کوي.

# کنفرانس سالانۀ تضمین کیفیت و اعتباردهی پوهنتون ها دایر شد

کنفرانس سالانۀ تضمین کیفیت و اعتباردهی پوهنتون های افغانستان با اشتراک ۲۰ پوهنتون ولایتی از طریق ویدیو کنفرانس برگزار گردید.



پوهاند حاجی محمد نعیمی رییس تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی، هدف از برگزاری این کنفرانس را بررسی و سنجش دقیق پیشرفت ها، چالش‌ها و فرصت ها در نهاد های تحصیلات عالی خواند و از پوهنتون ها خواست تا با ارزیابی خودی، نهادینه کردن معیار ها، اهداف و شیوه های معمول تضمین کیفیت و اعتباردهی به سطح کشورهای پیشرفته، محیط مطلوب علمی ایجاد کنند.

پوهاند نعیمی ضمن شرح پیشرفت ها وگزارش از بهبود محیط اکادمیک افغانستان گفت:" با الهام از تجارب کشور های بیرونی در عرصه تضمین کیفیت و اعتباردهی، موفقیت های داریم که قناعت بخش نیست؛ ولی امیدوارکننده است و با تجاربی که از کشور های بیرون بدست آورده ایم باید به تطبیق و تقویت تضمین کیفیت و اعتباردهی به عنوان یک شاخصه کیفیت در نهاد های علمی با جدیت بپردازیم."



وی از پوهنتون های شامل این کنفرانس خواست تا اهداف، دیدگاه و ماموریت شان را تدوین و به وزارت تحصیلات عالی ارسال بدارند؛ هم‌چنان در بخش ارزیابی‌های خودی، بازنگری مسلکی توسط بازنگران و ناظران و بورد تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی نیز هم‌کاری و هم‌نوایی داشته باشند تا مسیر رسیدن به هدف مشترک که تضمین کیفیت و اعتباردهی پوهنتون های کشور است کوتاه شود.

در این ویدیو کنفرانس رییس تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی و چهارتن از استادان پوهنتون کابل که در بخش تضمین کیفیت و اعتباردهی درایالات متحده آمریکا آموزش دیده اند، پریزنتیشن های شان را با عناوین "تضمین کیفیت و اعتباردهی در افغانستان، بررسی برنامه های علمی و اهمیت آن در فرایند تضمین کیفیت، ارزیابی های مبتنی برنتیجه و صداقت اکادمیک در تحقیق و پژوهش" ارایه دادند.




در این ویدیو کنفرانس پوهنتون های جوزجان، بدخشان، لوگر، وردک، فراه، پنجشیر، بادغیس، کندز، سرپل، لغمان، خوست، غزنی، کندهار، زراعتی افغانستان، پکتیا، پروان، ارزگان، تخار، بلخ و یک پوهنتون خصوصی اشتراک ورزیدند.

# د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکونې رياست د دريو کړنلارو تاييد کړ

د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا په غونډه کې د کرونا ویروس د وقایوي تدابیرو په ځرنګوالي، د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکونې رياست د دريو کړنلارو د تاييد او له اجنډا سره سم په يو لړ نورو موضوعاتو بحث وشو.

په ياده غونډه کې د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستيال او سرپرست وزير پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي وويل" دا چې د کرونا ويروس په چټکۍ سره مخ په خپريدو دی او افغانستان هم تر جدي ګواښ لاندې دی، لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې پوهنتونونه، د لوړو زده کړو موسسې او تحصيلي بنسټونه ملکف دي، چې د دې ويروس د مخنيوي پر وړاندې خپله ملي وجيبه أداء کړي."

همدارنګه رهبرۍ شورا بريکړه وکړه د دې لپاره چې د زده کړو بهير زيانمن نشي او د محصلينو اړيکه د زده کړو د پروسې سره پرې نشي، نو علمي کادري غړي دې هڅه وکړي، درسي مواد د الکترونيکي چينلونو له لارې د خپلو محصلينو سره شريک کړي او تحصيلي بهير دې په غيرې مستقيم ډول د الکترونيکي روشونو څخه په ګټې اخيستنې سره، چې په اړه يې د ۱۳۹۸ کال د حوت ۲٤ نيټه د ماسپښين دوه بجې د ويډيو کنفرانس له لارې معلومات ورکړل شول، دوام ورکړي.

د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا د وزارت د مرکزي ادارو ټولو رييسانو ته لارښونه وکړه، چې په خپلو کاري چارو کې دې د کرونا ويروس په وړاندې جدي تدابير ونيسي او هڅه دې وکړي چې خپلو مراجعينو ته انلاين خدمتونه وړاندې کړي.



د اجنډا سره سم رهبري شورا په درې کړنلارو (د کيفيت د تضمين بورډ کاري کړنلاره، اکاډميکې اعتبار ورکونې، د اکاډميکې اعتبار ورکونې طرزالعمل او د مسلکې طرز العمل په بيا کتنه) د کيفيت د تضمين رياست چې د ياد رياست د چارو د تنظيم په موخه جوړ شوی هر اړخيز بحث وکړ او د مجلس د غړو د نظرونو د تبادلې او وړانديزونو څخه وروسته ياد طرزالعملونه د رايو په اتفاق سره په پرنسيپ کې تاييد شول.

همدارنګه په جلا غونډه کې چې د ولاياتو د پوهنتونونو رييسانو سره د ويډيو کنفرانس له لارې ترسره شوه، د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري مرستيال دوکتور احمد سير مهجور د کرونا ويروس په اړه خپلې اندېښنې شريکې کړې او ټولو پوهنتونونو ته يې لارښوونه وکړه، چې د کرونا ويروس د خپريدو د مخنيوي او د دې ويروس په اړه دې د عامه پوهاوي اغيزمن پروګرامونه جوړ کړي او پدې برخه کې دې له ولايتي مسوولينو سره خپلې مرستې او همکارۍ ونسپموي.

دوکتور مهجور زياته کړه، چې تحصيلي بنسټونه مکلف دي ترڅو خپل درسونه په الکترونيکي او انلاين ډول د علم او پوهې د ښه لېږد په موخه برابر کړي او د خپلو پرمختګونو راپورونه دې په متواتر ډول له مرکز سره شريک کړي تر څو د دوي تجربې، نوښتونه او ستونزې د موثرې ګټې اخيستنې په موخه له نورو پوهنتونونو سره شريکې شي.

د مرکز او ولاياتو پوهنتونونو مسوولينو د يادو لارښوونو د پلي کولو په اړوند خپل تياری وښوده او پدې برخه کې يې يو لړ وړانديزونه د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري مرستيال سره شريکې کړې.

# نخستین جلسه برنامه عمل ملی ۲، مشارکت دولتداری باز افغانستان دایر شد

نخستین جلسه برنامه عمل ملی ۲، مشارکت دولتداری باز افغانستان(OGP) تحت ریاست معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی دایر گردید.



این جلسه به هدف بازنگری و انکشاف ۳۰ نصاب تعلیمی و تحصیلی در مطابقت با نیاز بازار کار و همچنان چگونگی تطبیق تعهدات وزارت های معارف و تحصیلات عالی با حضور داشت نمایندگان وزارت معارف، سکرتریت دولتداری باز، جامعه مدنی و جندر وزارت تحصیلات عالی تدویر یافت.

دکتور احمد سیر مهجور معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی در رابطه به بازنگری و انکشاف نصاب های تحصیلی و نهایی سازی نصاب ها معلومات داده گفت که در برنامه مشترک دولتداری باز، کمیته های تخنیکی و تخصصی از چهره های اکادمیک، محققین، اعضای جامعه مدنی، متخصصین بین المللی و نمایندگان سکتور عامه و خصوصی شرکت دارند؛ تا موارد عمده از جمله مدیریت برنامه ها و مدیریت پروژه ها در انکشاف نصاب مورد غور و بررسی قرار گیرند.



معین مالی و اداری گفت که در برنامه نخست مشارکت دولتداری باز وزارت های معارف و تحصیلات عالی تعهدات بزرگی را عملی نمودند. وی خاطر نشان ساخت که طی ۱۸ ماه آینده دستاورد های زیادی در این عرصه حاصل خواهد شد.

دکتور مهجور در این جلسه بر گسترش روابط و همکاری ادارات ذیربط در زمینه تاکید نموده، خواهان حضور پر رنگ کادر های متخصص از جامعه اکادمیک و نمایندگان جامعه مدنی شد.

همچنان اشتراک کنندگان طرح ها و نظریات سازنده شان را ارایه نموده خواهان انکشاف نصاب تعلیمی و تحصیلی بر اساس نیازمندی های جامعه شدند.



قابل ذکر است که برنامه عمل ملی-۱ مشارکت دولتداری باز افغانستان، نظارت بر کیفیت و شفافیت تعلیم و تحصیل در وزارت های معارف و تحصیلات عالی بود که موفقانه به اتمام رسید.

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی با غرس نهال در محوطه وزارت تحصیلات عالی؛ برای افغانستان آرزوی سرسبزی، وحدت و صلح نمود

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی در حالیکه معینان و رؤسای ادارات مرکزی وزارت تحصیلات عالی نیز حضور داشتند، با غرس نهال در محوطه وزارت تحصیلات عالی، از هفته نهال شانی تجلیل نموده برای افغانستان آرزوی سرسبزی، وحدت و صلح و صمیمیت کرد.



پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی از تمام مسؤلین پوهنتون های دولتی و خصوصی و شهروندان خواست تا با غرس نهال در محیط زیست شان، باعث سرسبزی، شگوفایی و امید آفرینی برای کشور شان شوند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی سال ۱۳۹۸ را سال پر دستاورد برای وزارت تحصیلات عالی خوانده، گفت که بازنگری نصاب های تحصیلی، بازنگری اسناد تقنینی و تشکیلات، تعدیلات لازم در قانون تحصیلات عالی، معیاری سازی پروسه تقرر اعضای کادر علمی، ایجاد ریاست های جدید، مصرف ۸۵ فیصد بودجه انکشافی و ۹۹ فیصد بودجه عادی، ایجاد زمینه تحصیل در مقاطع ماستری و دکتورا برای اعضای کادر علمی در داخل و خارج کشور، ایجاد مرکز تحقیقات آب و محیط زیست و ده ها برنامه دیگر شمه ای از تلاش های مفیدی بود که تحقق یافت و باعث تغییرات مثبت در حوزه تحصیلات عالی افغانستان شد.



پوهنمل بالاکرزی با اشاره به پلان ها و برنامه های سال جدید تحصیلی، بر تداوم کیفیت در نظام تحصیلی و تولید علم و دانش تأکید ورزید.

وی افزود: امید است ملت افغانستان در کنار هم با صفا و صمیمیت، امورات زندگی خویش را به دور از مشکلات روزگار با وحدت و همدلی سپری نمایند، تا در زیر سایه صلح و امنیت بتوانیم به مدارج بلند علمی برسیم و نهادهای تحصیلیِ خویش را ارتقا دهیم.



# رئیس جدید ریاست انکشاف برنامه های علمی وزارت تحصیلات عالی معرفی شد

پوهنوال صدیق الله بارکزی به حیث رئیس جدید ریاست انکشاف برنامه های علمی وزارت تحصیلات عالی معرفی گردید.



پوهاند بری صدیقی معین امور محصلان و دکتور احمد سیرمهجور معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی از پوهنوال صدیق الله بارکرزی به عنوان کادرشایسته و وطن دوست یاکردند و از حمایت رهبری وزارت تحصیلات عالی در راستای کاری موصوف اطمینان دادند.

پوهاند بری صدیقی معین امور محصلان وزارت تحصیلات عالی در مراسم معرفی پوهنوال بارکزی ضمن یاد آوری از تلاش و زحمات پوهنمل زبیر صدیقی رییس پشین ریاست انکشاف برنامه های علمی گفت:" پوهنوال صدیق الله بارکزی پیش از این عضو کادر علمی پوهنحی کمپیوتر ساینس پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد ربانی بوده که از تجارب ویژه ای درعرصه های امورعلمی، اداری و تدریسی برخوردار می باشد. موصوف ماستری خویش را از پوهنتون ماساچوست(Massachusetts) ایالات متحده امریکا گرفته و درسمت های آمریت دیپارتمنت، ریاست پوهنحی کمپیوترساینس و عضویت در تیم مسلکی پلان اکادمیک پوهنتون بین المللی پاچاخان نیز ایفای وظیفه نموده است.



هم‌چنان دکتوراحمد سیرمهجور تقرر پوهنوال صدیق الله بارکزی را به وی تبریک گفته افزود:" پوهنوال بارکزی با تجارب خوبی که در بخش علمی دارد می تواند مصدر خدمات موثر در ریاست انکشاف برنامه های علمی برای وزات تحصیلات عالی باشد و هیات رهبری وزارت تحصیلات عالی در این مسیر وی را حمایت و همراهی خواهد کرد.

قابل ذکر است که کمیته انتصاب بست های اکادمیک وزارت تحصیلات عالی پس از مطالعات و بررسی های لازم، محترم پوهنوال صدیق الله بارکزی عضو کادر علمی پوهنتون تعلیم و تربیه شهید ربانی را منحیث رئیس جدید انکشاف برنامه های علمی به مقام عالی ج.ا.ا پیشنهاد و تقرر موصوف در بست یاد شده طی حکم شماره ۳۱ مورخ ۱۳۹۸/۱۲/۲۵ از سوی مقام عالی ج.ا.ا منظور گردید.



گفتنی است قبلاً پوهنمل زبیر صدیقی مسوولیت ریاست انکشاف برنامه های علمی وزارت تحصیلات عالی را بدوش داشت که موصوف به هدف ادامه تحصیلات عالی در مقطع دکتورا قرار است عازم کشور آلمان شود.